تابش پوهنتون

پوهه، نوښت او پرمختګ



# د اقتصاد پوهنځي معلوماتي کتاب

تحصیلي کال:

۱۴۰۵هـ.ل

## د پوهنځي لنډه پېژندنه:

د تابش پوهنتون اقتصاد پوهنځي خپلې علمي او تدريسي چارې د پوهنتون له تاسيس سره سم د لوړو زده کړو وزارت له رسمي منظورۍ وروسته په (۱۳۸۸/۱۰/۲۴) نېټه پیل کړې. له پیل راهیسې دغه پوهنځی ژمن دی چې محصلانو ته د باکیفیته لوړو زده کړو په وړاندې کولو سره داسې وړ او مسلکي فارغان وروزي چې د هېواد د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په بهیر کې اغېزناک رول ولوبوي.

په تېرو کلونو کې اقتصاد پوهنځي د زده کړیالانو د روزنې او علمي ودې په برخه کې مهم رول لوبولی. دغه پوهنځی د خپلو محصلانو د علمي پوهې، مسلکي وړتیاوو او تحلیلي مهارتونو د پیاوړتیا لپاره کار کوي، چې هغوی وکولای شي د معاصر اقتصاد له ننګونو سره په اغېزناک ډول مقابله وکړي. یاد پوهنځي تر اوسه پورې ټولټال ۷۳۴ محصلان په معیاري او با کیفیته لوړو زده کړو سنبال کړي دي چې له دې ډلې څخه ۱۳۰ تنه ښځینه او ٦۳۷ تنه نارینه فارغان ټولنې ته د خدمت لپاره چمتو شوي دي.






# د اقتصاد پوهنځي رئیس پیغام!

په ډېرې خوښۍ سره تاسو ته د تابش پوهنتون د اقتصاد پوهنځي ته ښه راغلاست وایم. د پوهنځي د رئیس په توګه، ویاړ لرم چې د اقتصاد پوهنځي لیدلوری، علمي ارزښتونه او د لوړو زده کړو، څېړنې او ټولنې سره د اغېزمن تعامل په برخه کې خپله ژمنتیا له تاسو سره شریکه کړم.

د اقتصاد پوهنځی ژمن دی چې داسې وړ او مسؤلیت منونکي فارغان وروزي چې وکولای شي د هېواد د اقتصادي پرمختګ او دوامدارې ودې په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي. په داسې نړۍ کې چې په چټکۍ سره بدلون مومي، د اقتصادپوهانو، متشبثینو او د معلوماتو د شنونکو رول ورځ تر بلې زیات اهمیت مومي، چې اقتصادي ستونزو ته مناسبې حل لارې ومومي او د ودې لپاره نوي او نوښتګر فرصتونه رامنځته کړي.

په تابش پوهنتون کې د اقتصاد پوهنځی دوه د لیسانس علمي پروګرامونه وړاندې کوي: د تشبثاتو اداري څانګه او د احصائیې او اکانومیټرۍ څانګه دواړه څانګې داسې طرحه شوي چې محصلینو ته د نظري پوهې ترڅنګ اړین عملي مهارتونه هم ور زده کړي، چې وکولای شي اقتصادي نظامونه درک کړي، معلومات تحلیل کړي، تشبثات اداره کړي او د پالیسۍ او سوداګرۍ په برخه کې پر بنسټیزو معلوماتو ولاړې پرېکړې وکړي.

زموږ علمي پروګرامونه د یوه معاصر او معیاري نصاب له لارې وړاندې کېږي چې د وړ، متعهد او تجربه لرونکو استادانو له لوري تدریسېږي. اقتصاد پوهنځی انتقادي فکر، تحلیلي وړتیا، مسلکي اخلاقو او عملي زده کړو ته ځانګړې پاملرنه کوي، څو زموږ فارغان وکولای شي د نن ورځې د سیالۍ ډک کار بازار او د پوهې پر بنسټ د اقتصاد غوښتنو ته اغېزمن ځواب ووایي.

د تابش پوهنتون د اقتصاد پوهنځی هڅه کوي داسې علمي چاپېریال رامنځته کړي چې نوښت، څېړنه او فکري وده پکې وهڅول شي. د نصاب د دوامدار ښه والي، علمي همکارۍ او له ټولنې سره د تعامل له لارې، موږ هڅه کوو داسې فارغان وروزو چې د ملي پرمختګ په بهیر کې فعاله ونډه ولري او په نړیوال اقتصاد کې په بریالیتوب سره برخه واخلي.

زه په ټود هرکلي سره له راتلونکو محصلینو، څېړونکو او شریکانو څخه غوښتنه کوم چې د اقتصاد پوهنځي له هغو فرصتونو څخه ګټه واخلي چې دلته برابر شوي دي. موږ په ګډه هڅه کوو چې داسې یو فعال علمي چاپېریال رامنځته کړو چې د پوهې، نوښت او رهبرۍ د ودې لامل شي او د ښه راتلونکي بنسټ کېږدي.

**په درنښت،**

پوهنیار وسیق الله همدرد

د اقتصاد پوهنځي رئیس

## د اقتصاد پوهنځي لرليد

اقتصاد پوهنځی غواړي چې د هيواد په اقتصادي وده،
څېړنيز پرمختګ او ټولنيزې پياوړتيا کې ځانګړی ځای ولري.

## د اقتصاد پوهنځي ماموريت

اقتصاد پوهنځی غواړي چې د هيواد په اقتصادي وده،
څېړنيز پرمختګ او ټولنيزې پياوړتيا کې ځانګړی ځای ولري.

## د تشبثاتو اداري ځانګې لرليد

تشبثاتو اداري ځانګه غواړي د هيواد په سوداګرۍ او اداري برخو کې د اقتصادي ودې، څېړنيز پرمختګ او ټولنيزې پياوړتيا لپاره ځانګړې رول ولوبوي.

## د تشبثاتو اداري ځانګې ماموريت

د تشبثاتو اداري ځانګه د خپلو تدريسي ظرفيتونو او عملي روزنې له لارې محصلين د مسلکي اخلاقو، سوداګريزې پوهې او تحليلي مهارتونو سره سمبالوي ترڅو د هيواد په اقتصادي وده، څېړنيز پرمختګ او ټولنيزې پياوړتيا کې فعال رول ولوبوي.

## د اقتصاد پوهنځي ارزښتونه

- د باکيفيته لوړو زده کړو چمتو کول.
- د هر قسم تعصب او تبعيض څخه پاک علمي چاپېريال.
- په نړيوال معيار برابر تحقيق او څېړنې.
- ټول اسلامي او ملي ارزښتونو ته کار او ساتنه.
- اداري بهير کې مساوات، ګډون او متقابل احترام
- د ټولنې په پرمختګ کې په دوامداره توګه ونډه اخيستنه
- ټولنې ته مسلکي، با ديانته او ملي ګټو ته ژمن کادرونه وړاندې کول
- د قانون په چوکاټ کې د ملي ګټو ساتنه



## اساسي موخې:

1. د اقتصاد پوهنځي محصلين به د دې برنامې تر بشپړولو وروسته
د اقتصاد بنسټيز مفاهيم او اصول په سمه توګه درک کړي.
2. د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو د مديريت، مالي چارو او بازارموندنې بنسټيز مهارتونه زده کړي.
3. ځان لپاره کارموندنې او د نوو کاري فرصتونو د رامنځته کولو وړتيا ترلاسه کړي.
4. د خطر مديريت او د سوداګرۍ اړوند ستونزو د حل وړتيا به پياوړې کړي.
5. د رهبرۍ، ټيم ورک او مسلکي اخلاقو اصول به رعايت کړي.
6. د سوداګريزو فرصتونو د پېژندنې او ارزونې مهارت به ولري.
7. د سوداګريز پلان د جوړولو توان به پيدا کړي.
8. د نوښت او خلاق فکر وړتيا به ترلاسه کړي.


## متوقع پایلې

د اقتصاد پوهنځي د محصلینو او فارغانو متوقع پایلې په لاندې ډول کېدای شي:

- فارغان به د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د اغېزمن مدیریت، مالي او بازارموندنې د سم تطبیق،
- او د سوداګرۍ اړوند خطرونو د کنټرول وړتیا ولري.
- فارغان به خپل ځان ته د کارموندنې ترځنګ د نورو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کولو توان ولري.
- په اقتصادي پراختیا کې به ونډه واخلي، د اخلاقي او ټولنیز مسؤل تشبث بنسټ کېږدي،
- محصلین به وکولای شي خپلې سوداګریزې نظریې په واقعي تشبثاتو بدلې کړي.
- په ملي او سیمه ییزه کچه د پایدارې اقتصادي ودې لامل وګرځي.
- د سوداګرۍ د پیل او پراختیا عملي وړتیا به ترلاسه کړي.
- فارغان به د نوښتګر فکر او تشبثي لید لرونکي وګرځي.

## پوهنځي اداري جوړښت

د اقتصاد پوهنځی د یو منظم علمي او اداري جوړښت له لارې فعالیت کوي چې د اغېزناک تدریس، څېړنې او بنسټیز پرمختګ ملاتړ کوي. د پوهنځي اوسنی جوړښت له لاندې برخو څخه تشکیل شوی دی:د پوهنځي رئیس، د ډیپارټمنټ آمر، ۹ تنه دایمي استادان، ۱۸ تنه قراردادي استادان، تدریسي مدیر، دوه خدماتي کارمندان.




**په پورته ډول د ۱۴۰۵ هـ.ل کال لپاره د د اقتصاد پوهنځي تشکیلاتي جوړښت ، د پوهنتون علمي شورا د (۱۴۰۴/۱۲/۲۶) نېټې په (۱٦) ګڼه پروتوکول او د امناء هیئت مجلس د ( ۱۴۰۴/۱۲/۲۷) نېټې په (۸) ګڼه پروتوکول کې د رایو په یووالي سره ثبت، تائید او تصویب شو.**



## د محصلینو عملي کارونه:

د اقتصاد پوهنځي د محصلینو لپاره عملي کارونه او برنامې ډېرې مهمې دي، ځکه چې محصلین د نظري زده کړو تر څنګ له عملي تجربو سره هم بلدوي. لاندې ځینې مهم عملي کارونه دي:

- د بانکونو او مالي ادارو لیدنه
- د فابریکو او شرکتونو ساحوي لیدنه
- د علمي سیمینارونو وړاندې کول
- د کاروباري پلان جوړول
- د احصایوي معلوماتو تحلیل
- د اقتصادي راپورونو ترتیب
- د بودجې جوړولو تمرین
- د انټرنشیپ پروګرامونه
- د ټولنیزو او اقتصادي ستونزو څېړنه
- د صادراتو او وارداتو تحلیل

### د فارغانو د کار ساحه:

د اقتصاد پوهنځي د فارغانو لپاره کاري ساحې ډېرې پراخې دي او کولی شي په دولتي، خصوصي او نړیوالو ادارو کې دندې ترسره کړي. ځینې مهمې کاري ساحې دا دي:

- بانکداري او مالي ادارې
- دولتي ادارې
- خصوصي شرکتونه
- نړیوالې مؤسسې او غیر دولتي ادارې
- د سوداګرۍ او صنعت خونې
- د پانګونې او سټاک مارکېټ برخه
- تدریس او علمي څېړنې
- ګمرکونه او مالیاتي ادارې
- تشبثات او شخصي کاروبارونه
- د بیمې شرکتونه
- د بشري سرچینو مدیریت
- د تدارکاتو او لوژستیک برخه

## د تحصلي درجې په تفکیک سره د علمي کادر غړو شمېر:

| شماره | شهرت | | تحصیلات | | | نوعیت وظیفه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تخلص | تحصیل درجه | تحصیلي رشته | علمي رتبه | دایمي | قراردادي |
| ۱ | پوهنیار وسیق الله | همدرد | ماستر | ملي اقتصاد | پوهنیار | دایمي | |
| ۲ | حیات الله | اشنا | ماستر | اداره او تجارت | نلري | دایمي | |
| ۳ | مجاهد | حبیبي | ماستر | مالي | نلري | دایمي | |
| ۴ | بهیر الله | رحماني | ماستر | اداره او تجارت | نلري | دایمي | |
| ۵ | ظهور الله | شیزاد | ماستر | اداره او تجارت | نلري | دایمي | |
| ٦ | ضیاء الدین | محمدي | ماستر | اداره او تجارت | نلري | دایمي | |
| ۷ | پوهنیار بریالی | احمدي | ماستر | ملي اقتصاد | نوماند پوهنیار | دایمي | |
| ۸ | رحمت الله | فیض | ماستر | تشبثاتو اداره | نوماند پوهنیار | دایمي | |
| ۹ | هدایت الله | مخدوم | ماستر | تشبثاتو اداره | نوماند پوهنیار | دایمي | |
| ۱۰ | صلاح الدین | وطن | لېسانس | تشبثاتو اداره | نوماند پوهنیار | دایمي | |
| ۱۱ | فرید الله | زاهد | لېسانس | ریاضیات | نلري | دایمي | |

## د اقتصاد پوهنځي څانګې:

اوس مهال د اقتصاد پوهنځی دوه څانګې لري چې د معاصر اقتصاد د اړتیاوو پوره کولو لپاره طرحه شوي دي:

- د تشبثاتو اداري څانګه
- د احصایې او اکانومیتري څانګه

**درسي وختونه:**

اقتصاد پوهنځی په تشبثاتو اداري (**BBA**) ډیپارټمنټ کې په اونۍ کې پنځه ورځې هره ورځ له شنبې تر چهارشنبې د محصلینو په روزنه بوخت دی.

درې دورو کې عملاً تدریس کېږي:

- سهار لومړۍ دوره شپږو بجو څخه تر نهه (۶:۰۰ -۹:۰۰) بجو
- سهار دویمه دوره نهه بجو څخه تر دولس (۹:۰۰-۱۲:۰۰) بجو
- مازدیگر دوره څلور بجو څخه تر اووه (۴:۰۰ -۷:۰۰) بجو

**فرعي کمېټې:**

**د اقتصاد پوهنځي په جوړښت کې جمله پنځه (۵) فرعي کمېټې فعالیت کوي چې نومونه یې په لاندې ډول ذکر دي:**

1. تحصیلي نصاب کمېټه
2. علمي څېړنې کمېټه
3. ازموینو کمېټه
4. ستراتیژیک پلان کمېټه
5. کیفیت لوړونې کمېټه

### د تحصیل دوره:

د اقتصاد پوهنځي په د تشبثاتو اداري څانگه کې د تحصیل موده په اوسط ډول څلور تحصیلي کاله ده چې په ټول هېواد کې د لېسانس دورې لپاره همدا څلور کاله اوسط حد ټاکل شوی دی او دغه تحصیلي دوره په (۸) سمسترونو کې پای ته رسېږي. هر تحصیلي سمستر (۱٦) درسي اونۍ درسي بهیر او حد اکثر درې اونۍ ازموینې په بر کې نیسي، چې په دې اساس یو تحصیلي سمستر زیات نه زیات په (۱۹) درسي اونیو کې پای ته رسېږي. پر دې سربېره، د ستونزو د موجودیت په صورت کې لیسانس دوره تر دوو نورو کلونو پورې هم غځېدلی شي، یعنې د لیسانس ټوله دوره باید زیات نه زیات په شپږو کلونو کې پای ته ورسېږي، که څوک په دې موده کې د لېسانس د سند په ترلاسه کولو بریالی نه شي، له پوهنځي څخه په دایمي ډول اخراجېږي. محصلین په لومړیو څلور سمسترونو کې په عمومي ډول زده کړې کوي او وروستي څلور سمسترونه یې د مسلکي مضامینو زده کړې ته ځانگړې شوې دي، چې محصلین یې د خپل ذوق او علاقې له مخې ټاکي.

### کرېډیټونه:

| د مختلفو مضامینو گټگوري | د کرېډیټونو شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| اساسي | 36 | 23.22 % |
| مسلکي | 78 | 51.32 % |
| ټول شموله | 32 | 20.64% |
| انتخابي | 3 | 1.93% |
| انترنشپ / مونوگراف | 6 | 3.87 % |
| مجموع | 155 | 100 % |

تابش پوهنتون
علمي چارو معاونیت
اقتصاد پوهنځی
تشبثاتو اداري څانګه

## درسي مضامین او کتګوری:

| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټونو شمېر | اونیز درسي ساعتونه | | | | د تدریس مسؤوله څانګه | اړین مخکینی مضمون | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کال (لومړی) سمستر ( لومړی ) | | | | | نظري | عملي | ساحوي | مجموعه | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (د اسلام اعتقادي نظام) | SL.IC.0171 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 2 | اسلامي ثقافت تلاوت او تجوید | SL.IC.0172 | ټول شمول | 1 | | 2 | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 3 | د مدیریت اصول | B.EA.0101 | اساسي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 4 | د مالي محاسبې اصول | B.EA.0102 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 5 | تجارتي ریاضي | B.EA.0103 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 6 | انګلیسي-1 | ECO-En-102 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 7 | کمپیوټر پېژندنه | ECO-Cs-103 | ټول شمول | 2 | 1 | 2 | | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 8 | تجارت پېژندنه | B.EA.0104 | اساسي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 9 | دعوت او بیان اصول | B.EA.0105 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| **ټولټال** | | | | 19 | 17 | 4 | | 21 | | | |

**تشبثاتو اداري څانګه**

| کال (لومړی) سمستر ( دویم ) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټونو شمېر | اونیز درسي ساعتونه | | | | د تدریس مسؤوله څانګه | اړین مخکینی مضمون | کتني |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (د اسلام عبادتي نظام) | SL.IC.0273 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 2 | اسلامي ثقافت (سیرت) | SL.IC.0274 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 3 | مالي محاسبه | B.EA.0209 | اساسي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | د مالي محاسبې اصول | |
| 4 | تجارتي ریاضي | B.EA.0210 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | تجارتي ریاضي | |
| 5 | انګلیسي | ECO-En-202 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | انګلیسي-1 | |
| 6 | کوچنی اقتصاد | B.EA.0211 | اساسي | 3 | 2 | | 1 | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 7 | د بازار موندنې اصول | B.EA.0212 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 8 | د افغانستان معاصر تاریخ | ECO-Hi-104 | ټول شمول | 1 | 1 | | | 1 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 9 | کاروباري مفاهمه | B.EA.0213 | مسلکی | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 10 | د نړۍ په تمدن کې د مسلمانانو رول | B.EA.0214 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| **ټولټال** | | | | 21 | 19 | 2 | 1 | 22 | | | |

### تشبثاتو ادارې څانګه

| کال (دویم) سمستر (درېیم) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټونو شمېر | اونیز درسي ساعتونه | | | | د تدریس مسؤوله څانګه | اړین مخکینی مضمون | کتنې |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (د اسلام اخلاقي نظام) | SL.IC.0375 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام ټولنیز نظام) | SL.IC.0376 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 3 | لوی اقتصاد | B.EA.0314 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | کوچنی اقتصاد | |
| 4 | پیسې او بانکداري | B.EA.0315 | مسلکي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 5 | د تجارت حقوق | B.EA.0316 | مسلکي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 6 | د مصارفو سنجشونه | B.EA.0317 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | مالي محاسبه | |
| 7 | د افغانستان اقتصاد | B.EA.0318 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 8 | تشريحي احصائيه | B.EA.0319 | اساسي | 2 | 1 | 2 | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 9 | د بازار موندنې مدیریت | B.EA.0320 | مسلکي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | د بازار موندنې اصول | |
| 10 | د اسلامي نړۍ اوسنی حالت | B.EA.0321 | مسلکي | 2 | | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| **ټولټال** | | | | **21** | 17 | 4 | | 22 | | | |

| کال (دويم) سمستر (څلورم) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| گڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټ ونو شمېر | اونيز درسي ساعتونه | | | | د تدريس مسؤوله څانګه | اړين مخکينی مضمون | کتنې |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (فکري پوهنه) | SL.IC.0477 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 2 | اسلامي ثقافت (اديان او مذاهب) | SL.IC.0478 | ټول شمول | 1 | 1 | | | 1 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 3 | د بشري سرچينو مديريت | B.EA.0421 | مسلکي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | د مديريت اصول | |
| 4 | استنباطی احصائيه | B.EA.0422 | اساسي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | تشريحي احصائيه | |
| 5 | پانګه اچونه | B.EA.0423 | مسلکي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | پيسي او بانکداري | |
| 6 | کوچني او متوسط کاروبارونه | B.EA.0424 | مسلکي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | تجارت پېژندنه | |
| 7 | د ابن خلدون ټولنيز او روزنيز اندونه | B.EA.0425 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 8 | کارو باري تمويل | B.EA.0426 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | د مصارفو سنجشونه | |
| **ټولټال** | | | | **18** | **16** | **4** | | **20** | | | |

| کال (دریم) سمستر ( پنځم) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټ ونو شمېر | اونیز درسي ساعتونه | | | | د تدریس مسؤوله څانګه | اړین مخکینی مضمون | کتنې |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (د اسلام سیاسي نظام) | SL.IC.0579 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام اداري نظام) | SL.IC.0580 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 3 | مدیریتي اقتصاد | B.EA.0531 | مسلکي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | لوی اقتصاد | |
| 4 | د شخړو مدیریت | B.EA.0532 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | د بشري سرچینو مدیریت | |
| 5 | مالي مدیریت | B.EA.0533 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | کارو باري تمویل | |
| 6 | سازماني سلوک | B.EA.0535 | مسلکي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | د بشري سرچینو مدیریت | |
| 7 | مادیت او د اسلام په اړنه نوې تیروتنې | B.EA.0534 | اساسي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| **ټولټال** | | | | 18 | 16 | 4 | | 20 | | | |

| کال (درېیم) سمستر ( شپږم ) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټونو شمېر | اونیز درسي ساعتونه | | | | د تدریس مسؤوله څانګه | اړین مخکینی مضمون | کتنې |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (د اسلام اقتصادي نظام) | SL.IC.0681 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 2 | نړیوال اقتصاد | B.EA.0639 | مسلکي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | مدیریتي اقتصاد | |
| 3 | تهیه او تدارکات | B.EA.0640 | مسلکي | 3 | 2 | | 1 | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 4 | برېښنايي سوداګري | B.EA.0641 | مسلکي | 2 | 1 | 2 | | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 5 | د کیفیت د کنترول مدیریت | B.EA.0642 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | د بشري سرچینو مدیریت | |
| 6 | رهبري | B.EA.0643 | مسلکي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | د مدیریت اصول | |
| 7 | د کاروبار اخلاق | B.EA.0644 | مسلکي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| **ټولټال** | | | | **18** | 15 | 4 | 1 | 21 | | | |

| کال (څلورم) سمستر (اووم) | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټونو شمېر | اونیز درسي ساعتونه | | | | د تدریس مسؤوله څانګه | اړین مخکینی مضمون | کتنې |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (قرآن او معاصر علوم) | SL.IC.0782 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعیات | نه لري | |
| 2 | د پروژې مدیریت | B.EA.0745 | مسلکي | 3 | 1 | 2 | 1 | 4 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 3 | څېړنې مېتودولوژي | B.EA.0746 | مسلکي | 2 | 1 | 2 | | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 4 | تشبثات | B.EA.0747 | مسلکي | 3 | 2 | | 1 | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 5 | اسلامي تمویل | B.EA.0748 | مسلکي | 2 | 2 | | | 2 | تشبثاتو اداره | کارو باري تمویل | |
| 6 | د بدلون مدیریت | B.EA.0749 | مسلکي | 3 | 3 | | | 3 | تشبثاتو اداره | د بشري سرچینو مدیریت | |
| 7 | تولید او عملیاتي مدیریت | B.EA.0750 | مسلکي | 3 | 2 | | 1 | 3 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| **ټولټال** | | | | **18** | **13** | **4** | **3** | **20** | | | |

| کال (څلورم) سمستر (اتم) | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| گڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | د کرېډېټونو شمېر | اونیز درسي ساعتونه | | | | د تدریس مسؤوله څانګه | اړین مخکینی مضمون | کتنې |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) | SL.IC.0883 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 2 | ستراتېژیک مدیریت | B.EA.0851 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | د مدیریت اصول | |
| 3 | تفتیش | B.EA.0852 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| 4 | د مالي راپورونو تحلیل | B.EA.0853 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | مالي مدیریت | |
| 5 | سازماني نظریه او جوړښت | B.EA.0854 | مسلکي | 3 | 2 | 2 | | 4 | تشبثاتو اداره | د بشري سرچینو مدیریت | |
| 6 | مونوگراف (٦) | B.EA.0855 | عملي کار او پای لیک | 6 | 3 | 2 | 1 | 6 | تشبثاتو اداره | نه لري | |
| **ټولټال** | | | | **20** | 13 | 10 | 1 | 24 | | | |

## امکانات او تجهیزات:

1. معیاري درسي ټولګي چې په پروجکټر، سپینې تختې، مناسب رڼا او هوا سمبال دي.
2. مجهز کمپیوټر لېب چې په کافي شمېر کمپیوټرونو، اړوندو سافټویرونو او انټرنیټ سمبال دی.
3. د مطالعې او څېړنې لپاره کتابتون چې د تشبثاتو، مدیریت، اقتصاد او بازارموندنې اړوند کتابونه او علمي سرچینې پکې شاملې دي.
4. د سمینارونو، ورکشاپونو او پریزنټېشنونو لپاره د کنفرانس خونه.
5. د محصلینو د ګروپي کار او نوښت لپاره ځانګړې کاري فضا.
6. د اداري چارو لپاره دفترونه او اساسي تجهیزات.
7. دوامداره برېښنا، انټرنیټ، پرنټر او نور تخنیکي وسایل.














تابش پوهنتون

پوهه، نوښت او پرمختګ

TABESH UNIVERSITY

1388

تابش پوهنتون


0093 783 722 722

www.tabesh.edu.af

ادرس: ارزاقو کوڅه، دریمه ناحیه، جلال‌آباد ښار.